د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه ۱۲ رمضان، ۱۴۴۱هـ ۲۰۲۰/۰۵/۰۵م ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۱۲

**مطبوعاتي اعلاميه**

# ایران د مسلمانو افغانو ځوانانو په ډوبولو یو ځل بیا خپله خاینه او غیر اسلامي څېره ډاګیزه کړه

د ایران پولیسو ۵۸ افغانان له شکنجې وروسته سمندر ته غورځولي دي. یو ژغورل شوی کس وايي چې د ایران پولیسو نوموړي او ۵۷ ملګري یې چې د ایران خاورې ته یې د ننوتو نیت درلود، له شکنجې وروسته سمندر ته غورځولي دي. د هغه په وینا یوازې ۲۳ کسان ژغورل شوي دي.

**د حزب‌التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر** دغه عمل په خورا سختو ټکو غندي او د دې ویرجنې پېښې په اړه لاندې ټکي د یادونې وړ بولي:

**لومړی:** افغانستان یوه بډایه اسلامي خاوره ده چې منګې یې له اوبو ډکه دی؛ خو خپله له تندې مري. افغانستان سرشاره طبیعي سرچینې لري؛ خو د چارواکو د عذر او د استعمار د حاکمیت له امله هېڅکله دا فرصت نه دی ورکړل شوی او نه یې ورکوي، ترڅو پر خپل ځان یو متکي هېواد شي او له خپلو سرچینو سمه ګټه واخلي. سیاسي او اقتصادي تړښت د غربي استعمار یو اسلوب دی چې پر اسلامي خاورو تپل شوی. له همدې امله د دې خاورې میلیونونه ځوانان د فقر او یوې ګولۍ ډوډۍ د لاسته راوړلو له امله نورو هېوادونو ته کډوال کېږي. د افغانستان خاین چارواکي هم چې په اشغال او استعمار پورې تړښت د ځان لپاره یو ډول ویاړ ګڼي، له یوې خوا دغه هېواد ته په راتویې شوو پیسو او عوایدو خپله خېټه ډکوي او له بلې خوا یې اقتصادي پلانونه او پروګرامونه هم خیالي او دروغ دي! دغه مفسد چارواکي هڅه کوي چې د خلکو له فقر او بېکارۍ ناوړه ګټه واخلي او خپل حاکمیت ته دوام ورکړي .

**دویم:** د ایران دولت د «اسلامي جمهوریت» له تشکیل راهیسې هڅه کوي چې ځان د اسلامي نړۍ لپاره سیاسي محور، نمونه او قبله وګرځوي؛ خو دغه دولت په هغو لوړو شعارونو چې درلودل یې، نه یوازې دا چې د نړۍ د مسلمانو د ټپ پټۍ نه شو، بلکې د چټلو امریکايي سیاستونو په پیروۍ یې د نړۍ د مسلمانانو پر وړاندې ستر خیانتونه ترسره کړي دي. د همدغو سیاستونو په پایله کې په افغانستان، سوریه، عراق، یمن او نورو خاورو کې میلیونونه مسلمانان د باروتو سرو لمبو ته تړل شوي دي او تړل کېږي. نو سمندر ته د افغان ځوانانو غورځول د دغه تش په نامه اسلامي دولت د همغو غیر انساني او غیر اسلامي سیاستونو دوام دی.

**دریيم:** له هغه مهاله چې اسلامي نړۍ د دولت - ملت په غبرګ کې سقوط وکړ او د استعمار په مرزکښیو ټوټه ټوټه شو، دا ډول غمیزې یې په ځلونو تجربه کړي دي. د ملي دولتونو په تشکیلېدو د امت او اخوت (ورورولی) مفکورې لمن ټوله شوه او دولتونه د سیکولري فکر او ملي ګټو پر بنسټ جوړ شول، چې د ایران ظالم دولت هم د هغو برخه دی. د ملي ګټو لیدلوري مسلمانان داسې یو د بل پر وړاندې درولي دي چې پر بنسټ یې یو افغانی د پاکستاني او یو ایرانی د افغاني قتل توجیه کوي او ورباندې ویاړي. نو دا ظلم، فساد او غمیزې هغه مهال پای مومي چې د عواملو جرړې یې وایستل شي. دا عوامل همدا ملي دولتونه، ملي پولې، غیر اسلامي نظامونه او... دي چې پر اسلامي نړۍ تپل شوي او د مسلمانانو د تجزیې لامل شوي دي .

موږ کلونه کېږي چې اسلامي امت ته د دا ډول مفکورو له خطرونو خبرداری ورکوو او تر ننه پورې مو هڅه کړې چې اسلامي نړۍ خپل اصل ته چې اسلام دی، ور وګرځوو او د خلافت واحد دولت په تاسیس د دغو ټولو زهري او خطرناکو مفکورو جرړې وباسو او د مسلمانانو تر منځ فکري، سیاسي او جغرافیايي وحدت رامنځته کړو.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**